پۀ 29 اکتوبر، کال 2026ء (بمطابق: 17 جمادي الاول، کال 1448ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کېدونکے بیان

د بے چینی[نا قلاری]اسباب او د هغې حل

(پۀ معاشره کښې د زیاتېدونکې نا قلاری اسباب او د هغې د حل بیان)

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د نا قلاری حقیقت
- د نا قلاری سبب د معلوماتو زیاتوالے
- د بې معنې ژوند نه ځان بچ ساتئ!
- د نا قلاری پۀ وخت لوستلے کېدونکې دُعا

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)



FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786



GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمہ**: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

د دُرُود شریف فضیلت

د اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا ته چې په څۀ کار څۀ مشکل راپیښ شي ، هغه له پکار دي چې په ما باندې ډیر ډیر درودِ پاک لوي-

فَاِنَّهَا تَحُلُّ الْعُقَدَ، وَتَكْشِفُ الْكُرَبَ

مفهومي ترجمه: ځکه چې درودِ پاک تنکسیا، مصیبت او پرېشاني لرې کوي- [1]

یاد کرکے شہِ دوعالم کو — پڑھیے با چشمِ نَم درود و سلام
وہ دعا مستَجاب ہوتی ہے — جس میں ہوتا ہے ضَم درود و سلام
مشکلوں کے سبھی اندھیروں میں — ہے ضیاءِ کرم درود و سلام

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

د بیان اوړېدلو نیتونه

په **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو دے- [2]

اے د خورِ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** په ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي- راځئ چې

[1]...القول البدیع، الباب الخامس، صفحہ:219۔

[2]... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1 ۔

د بیان اورېدو نه مخکښې څۀ ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❁ پۀ اَدب به کښېنم ❁ ښه پۀ توجُّه به بیان اورم ❁ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د اوسنۍ وخت د ټولو نه لویه مسئله ده: ❁ نا قلاري (Restlessness) ❁ غمژن والے (Depression) ❁ پرېشاني ❁ مایوسي۔

دا مسئله دومره زیاتېږي چې بس څۀ ووایم، هر دوېم اِنسان د نا قلارۍ ښکار دے، پۀ غمژندے۔ ❁ څوک د کور حالاتو نا قلاره کړے دے ❁ څوک پۀ خپلو محرومیانو باندې پۀ سوچونو کولو پرېشانه دے ❁ څوک د مالدارۍ خوبونه وینې، کله چې یې خوبونه نۀ پوره کېږي نو پرېشانه کېږي ❁ ډېرو خلقو له د شپې خوب نۀ ورځي، پۀ ملاسته ملاسته پته نۀ لګي چې څۀ سوچونه کوي ❁ د خوب کُولۍ خوري ❁ پۀ ژوند کښې هر خوا خوشحالۍ دي، الله پاک خپل کور درکړے دے، ښه ښځه دې ده، اولاد دے، خپلوان دي، څومره چې ضرورت دے هٰغه همره رزق مېلاؤېږي، د دې باوجود دننه څۀ خالي والے شان محسوسېږي، ښکاري چې پۀ ژوند کښې څۀ کمے دے ❁ بعضې وخت هڅې بے هیڅه طبیعت خفه شي، د چا سره خبرې کول زړۀ نۀ غواړي، پۀ زړۀ او دماغو باندې مایوسي راخوره شي۔ دا هر څۀ ولې دي؟ زمونږه پۀ معاشره کښې نا قلاري دومره ولې زیاتېږي؟ نن به مونږه د هغې د څۀ وجو او د هغې د حل اورېدو سعادت حاصلوو۔ راځئ چې وړومبے د خورِ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سیرت یوه واقعه واورو:

لوړې---!! صبر کوه! ثواب به مومې!

حضرت زینب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا د خورِ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو

مشره شهزادګی ده۔[1]

مونږ اَلْحَمْدُلِلّٰه! مسلمانان یو، دا هم مونږ ته معلومېدل پکار دي چې زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم 4 شهزادګی او 3 شهزادګان دي۔ د مشرې شهزادګی نوم مبارک: ❁ حضرت زېنب ❁ د هغې نه پس حضرت رُقیه ❁ بیا حضرت اُمِّ کلثوم ❁ او د ټولو نه کشره او نیازبینه شهزادګی حضرت فاطِمةُ الزَّهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا ده۔ په شهزادګانو کښې د ټولو نه مشر شهزاده ❁ حضرت قاسِم ❁ د هغوئي نه کشر حضرت عبد الله او د ټولو نه کشر شهزاده حضرت اِبراهیم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم دے۔[2]

خُونِ خیر الرسل سے ہے جن کا خمیر — اُن کی بے لوث طینت پر لاکھوں سلام
اور جتنے شہزادے اُس شاہ کے — ان سب اَہْلِ مکانت پہ لاکھوں سلام[3]

مفهوم: زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټول اولاد مبارک،د کومو پیدائش چې د هغوي د ویني مبارکې نه شوے که هغه د هغوئي شهزادګی وي او که د هغوئي شهزادګان، ټول د اِحترام او د عزت جوګه دي۔ د هغوئي په پاک او بے عیبه فِطرت باندې دې په لکونو سلامونه وي۔

خبر! ما عرض کولو: حضرت زېنب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو نه مشره شهزادګی ده، د هغوئي ځوي یعني د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نمسے **حضرت علي بن اَبو العَاص** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ بیمار وو۔ هُم د هٰغه ورځو خبره ده: یوه ورځ خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صحابۂ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم سره تشریف فرما وو، په دې کښې د حضرت زېنب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا د طرف نه پېغام راغلو چې بابا جانه---!!

---

[1]...آقا کے شہزادے وشہزادیاں، صفحہ:27۔

[2]...آقا کے شہزادے و شہزادیاں، صفحہ:24 بتصرف قلیل۔

[3]...حدائق بخشش، صفحہ:309- 314ملتقطاً۔

زما ځوي اخري سلګۍ اخلي، زر تشريف راوړئ۔[1] خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: لاړ شئ او زما لور ته ووايئ:

اِنَّ لِلّٰهِ مَا اَخَذَ، وَلَهُ مَا اَعْطٰى

ترجمہ: څۀ چې يې واخستل هغه هم د الله پاک دي، او څۀ چې يې عطا کړل هغه هم د الله پاک دي

وَكُلٌّ عِنْدَهُ بِاَجَلٍ مُّسَمًّى، فَلْتَصْبِرْ وَلْتَحْتَسِبْ

ترجمہ: د هغۀ په نزد د هر يو خاص وخت مقرر دے، صبر اوکړه! او د ثواب اُمېد لره---!!

اَستاذي پېغام يورلو او لاړو- د لږ وخت تېرېدو نه پس رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پخپله د لور کور ته تشريف يورلو- نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نمسے پۀ غېږه مبارکه کښې واخستو، هٰغه وخت د هغوئ د شهزاده بالکل اخري وخت وو، اخرئ ساه يې پۀ شونډو وه- د هغوئ حالت يې چې وليدلو نو د رسولِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زړۀ مبارک راډک شو او د مقدسو سترګو نه يې اوښکې روانې شوې- صحابئ رسول حضرت سعد رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ورسره نزدې حاضر وو، عرض يې اوکړو:

يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! مَا هٰذَا؟

ترجمہ: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دا څۀ دي؟ (تاسو خو د صبر کوونکو سردار يئ، د دې باوجود پۀ مقدسو سترګو کښې اوښکې ولې دي؟)

هٰذِهٖ رَحْمَةٌ جَعَلَهَا اللّٰهُ فِيْ قُلُوْبِ عِبَادِهٖ

ترجمہ: دا رحمدلي ده،چې الله پاک پۀ خپلو بندګانو کښې اېښودې ده ۔[2]

---

[1]...عمدة القاری، کتاب الجنائز، باب قول النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یعذب...الخ، جلد:6، صفحہ:100-101، زیرِ حدیث:1284 بتصرف قلیل ۔

[2]... بخاری، کتاب الجنائز، باب قول النبی یعذب المیت...الخ، صفحہ:364، حدیث:1284 ۔

د واقعې نه مېلاؤېدونکي يو څو سبقونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سيرت پۀ دې ښکلې او د سبق نه پۀ ډکه واقعه باندې لږ غور اوکړئ! دې نه څومره خبرې مونږ ته د زدکړې د پاره مېلاؤېږي:

(1): ژړل جائز دي

وړومبے خو دا چې د مصيبت يا مشکل پۀ وخت کښې ژړل جائز دي، پۀ دې کښې هيڅ باک نشته، آؤ! ❁ واوېلا کول ❁ چغې سورې وهل ❁ سينه وهل وغېره جائز نۀ دي- خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: څۀ چې د سترګو او زړۀ نه وي، هغه د الله پاک د طرف نه دي او څۀ چې د لاس او ژبې نه وي، هغه د شېطان د طرف نه دي-

وضاحت: يعنې سخته راغله، زمونږ زړۀ ته غم راورسېدو، پۀ زړۀ باندې بوج راغلو، پۀ سترګو کښې اوښکې راغلې، دا دواړه بے صبري نۀ ده بلکې د الله پاک د طرفه دي، الله پاک د اِنسان پۀ فِطرت کښې ايښودي دي، چې سخته راشي نو زړۀ پرېشانه کېږي، پۀ زړۀ باندې بوج راځي، د سترګو نه اوښکې رواني شي، ځکه پۀ دې باندې هيڅ نيوکه نشته- آؤ! ❁ پۀ لاسونو باندې خلق د سر وېښته راشوکوي ❁ سينه وهي ❁ خپل مخ پۀ څېړو وهي ❁ پۀ ژبه باندې کډې وډې وائي ❁ ځينې نادانه خو د کُفر الفاظ هم وائي، دا دواړه خبرې يعنې پۀ لاسونو وهل، د خُلې نه د بے صبرۍ جُملې ويستل د شېطان د طرفه دي- لهذا پۀ سخت وخت کښې ژړل، پۀ سترګو کښې اوښکې راتلل بالکل جائز دي، پۀ دې کښې هيڅ باک نشته بلکې دا د زړۀ د نرمۍ او د رحمدلۍ نخښه ده- آؤ! پۀ ژبه او لاسونو باندې قابو ساتل پکار دي-

(2): د نېکانو خلقو سره تعلق جوړ کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پۀ دې واقعه باندې د يو بل اړخ نه هم غور اوکړئ چې د

حضرت علي بن ابو العاص رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اخري وخت وو، پۀ حضرت زېنب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا باندې به هٰغه وخت څۀ تېرېدل--؟ ظاهره ده چې مور ده، د ځوي محبت به يې پۀ زړۀ کښې جوش وهلو، د غم سمندر به يې پۀ زړۀ کښې پۀ موجونو وو، پۀ داسې سخت وخت کښې حضرت زېنب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا څۀ اوکړل؟ د خپل خوږ بابا جان، د دواړو جهانو د سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خِدمت کښې يې عرض اوکړو چې تاسو تشريف راوړئ! زړۀ ته به مې اُمېد مېلاؤ شي- اِمام اِبنِ حَجر عَسقلاني رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: حضرت زېنب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا ته د اِلـهام پۀ ذريعه معلومه شوې وه (يعنې دا خبره د الله پاک د طرف نه د هغوئ پۀ زړۀ کښې اچولے شوې وه) چې پۀ کوم تکليف کښې تاسو اخته يـئ، دا به د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دُعا او د هغوئ پۀ تشريف راوړلو سره لرې کېږي، ځکه هغوئ د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خِدمت کښې پېغام ولېږلو-[1]

دې نه مونږ ته دا سبق د زدکړې د پاره مېلاؤېږي چې ❁ کله چې سخت وخت وي ❁ زړۀ نا قلاره وي ❁ حوصلې ماتېږي ❁ برداشت ختم شوے وي ❁ نا قلاري مو ژوند ته نۀ پرېږدي، هٰغه وخت د بزرګانو پۀ خِدمت کښې، د الله والوِ پۀ خِدمت کښې پۀ خاص توګه د نبيانو د سردار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خِدمت کښې حاضرېدل پکار دي، د هغوئ طرف ته توجه کول پکار دي چې د هغوئ پۀ برکت الله پاک نا قلاره زړونو ته قرار عطا کوي-

سکونِ دل انیسِ جاں حضور تھے حضور ہیں | علاجِ گردشِ جہاں حضور تھے حضور ہیں

د الله والوِ طرف ته توجه کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا خبره دلته پۀ ورو ورو روانه ده کمېږي، مونږ له دې اړخ ته

---

[1]...فتح الباری، کتاب الجنائز، باب قول النبی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَ سَلَّم یعذب...الخ، جلد3، صفحہ201، زیرِ حدیث1284۔

توجه کول پکار دي- ❁ زړونه نا قلاره وي ❁ پرېشانۍ راځي ❁ سختو راکښر کړي وي ❁ بعضې وخت بغېر د څۀ خبرې نه هم زړۀ نا قلاره کېږي ❁ بس د دننه نه داسې خالي خالي محسوسېږي- پۀ داسې وخت کښې دلته خلق څۀ کوي؟ ❁ د سيل سپاټې (Picnic) د پاره ووځي چې هوا به مو بدله شي نو څۀ سکون به مو نصيب شي ❁ ځينې د زړۀ خوشحالولو (يعنې Entertainment) پۀ نوم د فلمونو او ډرامو کتلو مرسته اخلي ❁ ځينې پۀ سوشل مېډيا کښې ډوب شي-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پۀ داسې وختونو کښې ❁ درودِ پاک لوستل پکار دي ❁ د نبيانو د سُلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خِدمت کښې حاضري کول پکار دي ❁ که تاسو پۀ جسماني (يعنې Physically) توګه مدينې منورې ته رسېدے نۀ شئ نو هيڅ خبره نۀ ده، هم د کور پۀ يو ګوټ کښې ځانله کښېنئ! درودِ پاک لولئ! خوږِ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يادوئ! د هغوئ پۀ دربار کښې فرياد کوئ! د ګنبدِ خضرىٰ خيال پۀ ذِهن کښې راولئ! اِنْ شَآءَ اللّٰه الْكَرِيم! زړۀ ته به سکون مېلاؤ ېږي-

اُن کے نثار کوئی کیسے ہی رَنج میں ہو | جب یاد آ گئے ہیں، سب غم بُھلا دیئے ہیں[1]

❁ دغه شان پۀ داسې وختونو کښې د الله پاک د نېکانو بندګانو پۀ خِدمت کښې حاضرېږئ! ❁ د هغوئ سره کښېنئ! ❁ د هغوئ سره د زړۀ خبرې کوئ! ❁ خپلې پرېشانۍ ورته بيانوئ! ❁ دغه شان د خپلو مشرانو سره کښېنئ! يقين اوکړئ چې دا خيزونه به زمونږ د زړۀ نه ووځي، پۀ خاص توګه نوے ګُل (يعنې Gen Z)، هغوئ ته خپل مشران ، مشران نۀ ګڼي، د هغوئ د مشرانو سره د کښناستو هډو ذِهن نۀ جوړېږي- نن صباني ځوانان څۀ کوي؟ پۀ ژوند کښې نا قلاري زياتېږي، مسئلې راپېدا کېږي، اوس څۀ کوي: ❁ د AI سره به يې شېئر (Share) کوي- د هغه نه به د حل تپوس وکړو،چې

[1]...حدائق بخشش، صفحہ:101۔

زۀ څۀ اوکړم؟ یوه د اِحتیاط خبره عرض کوم: خپل ذاتي معلومات (Personal information) چرې هم د AI سره مۀ شېئر کوئ! هغه یو مشین دے، زمونږه خبرې، زمونږه معلومات غلط اِستعمالېدے (Misuse) شي- هسې هم AI یو مشین دے، هغه زمونږ په شان په دُنیا کښې، په معاشره کښې دننه ژوند نۀ دے تېر کړے، د AI سره معلومات (Knowledge) کېدے شي خو تجربه ورسره نشته- ځکه خپل حالت د هغه سره د شېئر (Share) کولو په ځائے د مشرانو سره کښاستل پکار دي ❁ دغه شان ځینې نادانه نا قلاره شي نو مَعَاذَاللہ! د شرابو مرسته حاصله کړي- ډېر سخت د ګناه کار دے- حرام دے، دوزخ ته بوتلونکے کار دے- د دې سره به نا قلارې څۀ لرې شي---؟ د دې نه به نور هم وبال جوړ شي-

ځکه د مشرانو سره کښېنئ، د هغوئ اورئ، د هغوئ د تجربو نه فائده اخلئ- اِنْ شَآءَاللہُ الْکَرِیم! په ژوند کښې به مو سکون راشي-

مزارونو ته حاضري کوئ!

یوه مشوره عرض کووم: یو ولي الله کوم چې واقعي ولي الله وي، د کوم طرف ته چې ستاسو زړۀ مائله وي، د هغوئ مزار مبارک ته د حاضرۍ پوخ عادت جوړ کړئ! یقین اوکړئ چې زړۀ ته به مو داسې سکون راشي چې واه---!! څومره ښه خبره ده- زمونږه د دِین بزرګانو د الله پاک نېکانو بندګانو به هم داسې کول- ❁ حضرت خطیب بغدادي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ د پینځمې صدۍ هجرۍ بزرګ دے او ډېر لوئ مُحَدِّث دے، هغوئ لیکلي دي چې د 70 کالو پورې مې مسلسل د حضرت معروف ګرخي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ د مزار مبارک تجربه کړې ده، په دې موده کښې به چې څوک پرېشانه دلته راغلو، الله پاک د هغه پرېشاني ختمه کړه [1]

❁ حضرت ابو علي خَلَّال رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ فرمائي: په ما چې کله هم څۀ پرېشاني یا غم راغلے،

[1]...تاریخ بغداد، باب ما ذکر فی مقابر...الخ،جلد:I، صفحہ:135۔

زۀ د حضرت موسیٰ بن جعفر رَحْمَةُاللهِعَلَيْه مزار مبارک ته حاضر شوے یم، د هغوئي وسیله مې پیش کړې، د دې پۀ برکت زما پریشاني لرې شوې[1] ❁ اِمام اِبنِ حبَّان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه دپر لوئي اِمام دے، فرمائي: ما ته چې کله هم څۀ مشکل راپیښ شوے نو زۀ به د حضرت اِمام علي بن موسیٰ کاظِم رَحْمَةُاللهِعَلَيْه مزار مبارک ته حاضر شوم، اللہ پاک هٰغه سخته لرې کړې۔[2]

داسې واقعې او روایتونه که چرې راجمع کړے شي نو لوئي کتاب به ترې جوړ شي، تاسو وګورئ چې د اللہ والؤ انداز څنګه وو۔ ځکه مونږ له هم پکار دي چې پۀ دې باندې عمل اوکړو۔ که زړۀ نا قلاره وي، پریشانه وي، د لږ ساعت د پاره هم سکون نۀ مومي نو د اللہ والؤ مزارونو ته حاضري اوکړئ! اِنْ شَآءَاللهُالْكَرِيم! سکون به مېلاؤ شي۔

(3): پۀ تقدیر باندې راضي اوسئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږه د حضرت زینب رَضِیَاللهُعَنْها واقعه واورېدله، د هغوئي د شهزاده اخري وخت وو، زړۀ نا قلاره وو، پریشاني وه، هغوئي د خوږ محبوب صَلَّىاللهُعَلَيْهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم پۀ خِدمت کښې پیغام ولېږلو، نبي کریم صَلَّىاللهُعَلَيْهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم پۀ جواب کښې څۀ وفرمائیل؟ ښکلي الفاظ دي:

اِنَّ لِلّٰهِ مَا اَخَذَ، وَلَهُ مَا اَعْطٰى وَكُلٌّ عِنْدَهُ بِاَجَلٍ مُّسَمًّى فَلْتَصْبِرْ وَلْتَحْتَسِبْ

ترجمه: بیشکه څۀ چې اللہ پاک واخستل، هغه هم د اللہ پاک دي،او څۀ چې اللہ پاک عطا کړل، هغه هم د اللہ پاک دي د اللہ پاک پۀ نزد د هر یو خاص وخت مقرر دے، بس صبر کوه! او د ثواب اُمید لره---!![3]

---

[1]...تاریخ بغداد، باب ما ذکر فی مقابر...الخ،جلد:1، صفحه:133۔

[2]... الثقات لابن حبان، باب العین، جلد:8، صفحه:457۔

[3]... بخاری، کتاب الجنائز، باب قول النبی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَ آلہٖ وَ سَلَّم یعذب...الخ ، صفحه:364، حدیث:1284۔

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا چې کوم څیز دے کنه؛ یقین اوکړئ چې زمونږ د ناقلارو د ټولو نه بنیادي عِلاج دے۔

د نا قلاری حقیقت

نا قلاري (Restlessness) په اصل کښې څۀ څیز دے؟ چې ژور نظر پرې اوکړې نو د تقدیر او د اِنسان د خواهش ترمینځه د فرق راتللو نتیجه نا قلاري وي۔

❁ اِنسان غواړي چې زۀ مالداره شم۔ په قِسمت کښې یې غریبي لیکلے شوې ده، اوس به دے نا قلاره کېږي ❁ اِنسان غواړي چې زما کامیابي نصیب شي، په قِسمت کښې د هغه ناکامي لیکلے شوې ده، اوس به دے نا قلاره کېږي ❁ اِنسان غواړي چې زما اولاد وشي، په قِسمت کښې یې بے اولادي لیکلې ده ❁ د نورو خلقو د ژوند تېرولو (Lifestyle) په لیدو نا قلاره کېږي چې زما سره دا هر څۀ نشته ❁ په خپل ژوند باندې خلق تنګېږي ❁ د ګرانۍ په وجه نا قلاره کېږي ❁ د روزګار په وجه نا قلاره کېږي ❁ هڅې بے هیڅه د مستقبل په سوچ کولو نا قلاره کېږي چې هې! زما د مستقبل به څۀ کېږي؟ زما بودا توب به څنګه تېرېږي؟ ❁ د خپل مطلب د نتیجو هغه هم د زر حاصلولو پرې تادي وي، د دې تادۍ په وجه نا قلاره کېږي۔ غرض دا چې کله د الله پاک او د اِنسان د مرضۍ ترمینځه فرق راشي نو اِنسان نا قلاره کېږي۔

ځکه زمونږ په ژوند کښې د راخورې نا قلارې ډېر اسان حل هم دا دے چې مونږ د الله پاک په رضا باندې راضي شو، هغه چې څۀ راکړي دي، خومره یې راکړي دي، څنګه یې ساتلي یو، چرته یې ساتلي یو، هغه د زړۀ نه اومنو، زړۀ ته به سکون راشي۔

تقدیر یوه اسره ده

زۀ تاسو ته د مزې یوه خبره اوکړم: زمونږه تقدیر زمونږه بهترینه اسره ده۔ هسې خو تقدیر خُدائي کار دے، په دې کښې زمونږ هیڅ واک اِختیار نشته، نۀ په دې کښې مونږ څۀ واک

اِختیار لرلے شو او مونږ له پۀ دې باره کښې سوچ هم نۀ دي کول پکار۔

مثال عرض کووم: تاسو چرته یو ډاکټر پۀ دې خبره باندې پریشانه لیدلے دے چې ما له د کُرسی جوړولو چل نۀ راځي؟ نۀ به مو وي لیدلے ❁ څوک ترکان (Carpenter) پۀ دې خبره باندې پریشانه وي چې ژوند تېر شو خو د اوسه پوري مې د یوې ټیکې (Injection) لګولو چل زده نۀ کړو، نۀ به مو وي لیدلے۔ مطلب دا دے چې د چا کار دے، هغه به هم هغه کوي، بَل پۀ هغې کښې نۀ ګوتې وهلے شي، نۀ هٰغه کار کولے شي۔ د تقدیر فیصله د اللہ پاک پۀ اِختیار کښې ده، زمونږ خو هډو اِختیار نشته۔ مونږ بندګان یو، زمونږ د تقدیر پۀ معاملو کښې پۀ ګوتو وهلو کښې څۀ کار دے، اللہ پاک تقدیر ولې لیکلے دے؟ زما تقدیر یې داسې ولې لیکلے دے؟ وغیره سوچ مونږ ولې اوکړو؟ پۀ څۀ وجه سوچ اوکړو، مونږ خو بندګان یو، هم بندګان به اوسو۔ آؤ! د تقدیر پۀ باره کښې یوه خبره ده کومه چې زمونږ پۀ باره کښې ده۔ هغه څۀ ده؟ اللہ پاک فرمائي:

لِكَيْلَا تَاْسَوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ وَ لَا تَفْرَحُوْا بِمَاۤ اٰتٰىكُمْ ؕ وَ اللّٰهُ لَا یُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرِ ۙ(۲۳)

(پاره:27، سورۂ حَدِیْد:23)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: د پاره د دې چې تاسو پۀ هغې غم نۀ کوئ څۀ چې تاسو نه لاړ شي او پۀ هغې [د خوشحالی نه] غرور نۀ کوئ څۀ چې تاسو ته اللہ درکړي دي او اللہ هر تکبر کوونکے، ځان اوچت ګڼلو والا نۀ خوښوي۔

اللہ پاک تقدیر لیکلے دے، د هغې یو حِکمت بیانولے کېږي، فرمائي: هر څۀ د مخکښې نه دې د پاره پۀ تقدیر کښې لیکلے شوي دي چې تاسو ته څۀ مېلاؤ شي نو پۀ هغې باندې پۀ فخر او غرور کښې اخته نۀ شئ! او څۀ چې د لاس نه لاړ شي نو پۀ هغې باندې مایوسه نۀ شئ!

کله چې څۀ مېلاؤ شي نو شُکر اوباسو، ووایو چې پۀ دې کښې زما څۀ کمال دے؟ الله پاک زما پۀ قِسمت کښې دا نِعمت لیکلے وو، ځکه راته مېلاؤ شو- او څۀ چې د لاس نه لاړ شي، څۀ نِعمت کوم چې مونږ غوښتلو چې مېلاؤ شي، هغه مېلاؤ نۀ شو، پۀ څۀ خبره کښې محرومي شوه ❁ د چا مور او پلار د 100 کالو پورې ژوندي دي، څوک پۀ نا بالغ توب کښې یتیم شي ❁ څوک مالداره دے، څوک غریب دے ❁ د چا سره لویه عهده ده، د چا سره نشته ❁ څوک ډېر مشهور دے، څوک ډېر مشهور نۀ دے، دا د الله پاک تقسیم دے، پۀ دې باندې بیا د نا قلاره کېدو، د ډپرېشن د ښکار کېدو، د مایوسه کېدو څۀ ضرورت دے، بس هم دا وایئ:

اِنَّ لِلّٰهِ مَا اَخَذَ، وَلَهٗ مَا اَعْطٰی

ترجمه: الله پاک چې څۀ راکړل، دا هم د هغه دي،او څۀ چې یې واخستل، هغه هم د هغه دي-

لهذا د الله پاک پۀ رضا باندې رضا کېدونکي جوړ شئ! یقین اوکړئ چې ژوند به مو د سکون نه ډک شي-

کېږي به هٰغه څۀ کوم چې خُدائے غواړي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! یو ډېر ښکلے روایت دے، واورئ! زړۀ ته به مو سکون مېلاؤ شي: پۀ **اِحیاءُ العُلوم** کښې اِمام محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکلي دي: الله پاک خپل نبي حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي ولېږله، وه یې فرمائیل:

یَا دَاوٗدُ اِنَّكَ تُرِیْدُ وَاُرِیْدُ

ترجمه: یعني اے داؤده---! یوه ستا خوښه ده، یوه زما خوښه ده-

وَاِنَّمَا یَكُوْنُ مَا اُرِیْدُ

ترجمه: بے شکه کېږي به هٰغه کومه چې زما خوښه ده-

فَاِنْ سَلَّمْتَ لِمَا اُرِیْدُ کَفَیْتُكَ مَا تُرِیْدُ

ترجمہ: که چرې تۀ د زړۀ نه زما خوښه اومنې نو زۀ به ستا د خوښې د پاره هم کافي شم-

وَاِنْ لَمْ تُسَلِّمْ لِمَا اُرِیْدُ اَتْعَبْتُكَ فِیْمَا تُرِیْدُ، ثُمَّ لَا یَكُوْنُ اِلَّا مَا اُرِیْدُ

ترجمہ: که چرې تۀ زما خوښه نۀ منې نو زۀ به تا ستا پۀ خوښه پوره کولو کښې ستړے کړم، بیا اخر کښدل هم هٰغه دي کومه چې زما خوښه ده- [1]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! غور اوکړئ! ښه پوره غور اوکړئ چې دا دُنیا د الله پاک ده، هم هغه د دې مالِک دے، دلته چې څۀ کېږي، هم د هغه پۀ خوښه کېږي، بیا مونږ ته د پرېشانه کښدو څۀ حاجت دے--؟ بس د الله پاک پۀ مرضیٰ باندې راضي شئ! د دې نېک عمل پۀ برکت باندې به زمونږه خواهشات، زمونږه ارمانونه هم پوره شي-

د نا قلارو سبب : د معلوماتو زیاتوالے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پۀ معاشره کښې د زیاتېدونکې نا قلارۍ یوه بله وجه هم ده، کېدے شي چې تاسو یې پۀ اورېدو حېران شئ؛ هٰغه وجه ده: **د معلوماتو زیاتوالے (A lot of information)**- زۀ د عِلمِ دِین زیاتوالے نۀ یادووم- دلته سوشل مېډیا ډېره عام شوې ده، د دُنیا د یو کُوټ خبره پۀ یو څو منټو کښې بل کُوټ ته رسېږي- ❁ یو رِیل (**Reel**) مو وکتو، پۀ هغې یو څو سیکنډه ولګېدل خو ریل (**Reel**) زمونږ پۀ دِماغو یو اثر پرېښودو، ❁ دغه شان زرګونه رِیلز (**Reels**) مو وکتل نو هغه به زمونږه پۀ دِماغو باندې زرګونه اثرونه پرېږدي ❁ یو خبر مو ولوستو چې پۀ دُنیا کښې دا هر څۀ کېږي- اوس به دا خبر د خپلو دوستانو سره شېئر کوئ، د دوستانو پۀ محفل کښې به پۀ دې باندې تبصرې کوئ- داسې به زمونږ لوستلے شوے یا اورېدلے شوے یو خبر څو کرته زمونږ پۀ دماغو کښې ګرځي راګرځي ❁ دغه شان اوس هم خلق اخبارونه لولي ❁ ډېر خلق پرله پسې خبرونه

[1]...احیاء العلوم، کتاب المحبة والشوق...الخ، القول فی معنی الرضا...الخ، جلد:4، صفحہ:420-

ګوري، د خو پورې چې يې د ټولې زمانې خبرونه اوربدلې يا ليدلې نۀ وي، هغوئ له سکون نۀ ورځي- بيا زمونږ خپل مينځ کښې مجلسونو ته وګورئ؛ ❁ دوستان چې پۀ خپل مينځ کښې يو ځائے شي نو د خبرو شروع هم د دې نه کوي چې ها! وروره---!! ووايه کنه! د فلانکي ځۀ وشو؟ ❁ زمونږه افسر نن سبا ځۀ کوي؟ ❁ يا فلانکے تنظيم داسې کوي ❁ معلومه ده درته چې فلانکي ځۀ کارنامه کړې ده ❁ ځينې خلق پرائيوټ رپورټران (Private Reporter) وي، ټول ښار کښې نن ځۀ ځۀ شوي دي، ځۀ ځۀ کېدونکي دي، څوک ځۀ کوي، څوک پۀ کوم حالت کښې دے؟ دا ټول خبرونه د هغوئ سره وي- تاسو وګورئ چې دا دومره ډېر خبرونه، دومره ډېر معلومات هر وخت زمونږ پۀ دماغو کښې وي، د تَفَتُّن (يعنې خوش طبعی) پۀ توګه عرض کووم چې زمونږ سره دومره معلومات راجمع شوي دي چې د دماغو مېموري (Memory) لکه چې ډکه شوې ده-

تاسو ته معلومه ده چې کله مېموري فُل شي نو ځۀ کېږي؟ مثلاً: زمونږه د موبائل مېموري فُل شي نو زمونږه موبائل هېنګ (Hang) کېدل شروع شي، د هغې سپيډ کم شي- اوس سوچ اوکړئ چې زمونږه پۀ لکونو قِسمه معلومات پۀ وړوکي شان دماغو کښې راجمع شي- نو زمونږ د دماغو به حال ځۀ وي---؟ دماغ خو به هېنګ شي- بيا بس هر وخت هم مايوسي، نا قلاري، پرېشاني، پۀ زړۀ کښې به اُلټا پلټا خيالونه ځي راځي-

يقين اوکړئ! که چرې تاسو سکون غواړئ نو د معلوماتو انتخاب (Selection) شروع کړئ- هره هٰغه خبره کومه چې زما د کار ده، ما له به پۀ دُنيا يا اخرت کښې فائده راکوي، هغه حاصله کړئ! کومه چې نۀ پۀ دُنيا کښې فائده راکوي او نۀ پۀ اخرت کښې نو پۀ داسي معلوماتو باندې مکمله پابندي ولګوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰه الْکَرِیم! ژوند به مو د سکون نه ډک شي- چرته هسې د تجربې پۀ توګه خپل موبائل بند کړئ او پخوانے کوم چې د بټنو والا موبائل وو پۀ هغې کښې خپل سِم کېږدئ! دري څلور ورځې د هغې سره تېرې کړئ! وګورئ چې

د ژوند نیمې پریشانی به مو ختمې شي۔

د پاک زړۀ ساتلو تعلیم

پۀ حدیثِ پاک کښې دي، رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: یو ګس دې ما ته د بل ګس خبره نۀ رارسوي! بے شکه زۀ غواړم چې ستاسو خوا له راشم نو صفا سینه راوړم۔۔۔!![1]

دا مونږ ته د ښودنې د پاره اِرشاد شوي دي: ګنې خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو هغه څوک دے چې ټوله دُنیا، د دې هر یو ګوټ، د قیامته پورې چې څۀ کېدونکي دي، څوک چرته دے؟ څۀ کوي؟ د چا سره خبرې کوي؟ څۀ وائي؟ خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته خو هر څۀ د مخکښې نه معلوم دي، که څوک ووائي نو هم ورته معلوم دي او که وه یې نۀ وائي نو هم د الله پاک پۀ عطا سره تر ې خبر دے۔ ځکه زمونږ د تعلیم د پاره یې دا خبره وفرمائیله۔ پۀ څۀ باندې یې پوهه کړو؟ هغه خبرې کومې چې ستاسو نه پټې دي، هغه مۀ اورئ! چا څۀ ووئیل؟ چا څۀ اوکړل؟ څوک څنګه اعمال کوي؟ څوک د کوم طبیعت والا اِنسان دے؟

دواړه طرفو ته یې نصیحت اوکړو چې ❁ څوک چې داسې خبرې نورو ته رسوي، هغوئ له پکار دي چې داسې نۀ کوي، که د چا د راز پته ورته لګېدلې وي نو پۀ هغې باندې دې پرده واچوي ❁ د اورېدونکو د پاره نصیحت دے چې هغوئ داسې خبرې نۀ اوري۔ مونږ که د هر قِسمه صفا زړۀ والا یو، ظاهره ده چې کله د نورو خبره مونږ ته رارسېږي، مثلاً چا ووئیل چې فلانکے پېژني؟ هغه شراب څښل۔ اوس به د هغه پۀ باره کښې پۀ زړۀ کښې خو خیرے راځي۔ ځکه د خلقو د پټو خبرو نۀ خو د معلومولو کوشش کول پکار دي، نۀ هڅې بے هیڅه معلومات جمع کول پکار دي چې پۀ دې سره زړۀ مشغوله کیږي، پۀ زړۀ کښې خیالونه راځي او بغېر د څۀ وجې نه نا قلاري زیاتېږي۔

---

[1]...ابو داؤد، کتاب الادب، باب فی رفع الحدیث من المجلس، صفحہ:762-763، حدیث:4860۔

د اِمامِ بُخاري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه درې خاص عادتونه

اِمام محمد بن اِسماعيل بُخاري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه کوم چې ډېر لوئي مُحَدِّث او کامِل ولي دے- د هغوئي ډېر ښکلي درې عادتونه مبارک دي: (1):كَانَ قَلِيْلُ الْكَلَامِ کمې خبرې به يې کولې (2):كَانَ لَايَطْمَعُ فِيْمَا عِنْدَ النَّاسِ د خلقو سره چې به څۀ وو پۀ هغې کښې به يې لالچ نۀ کولو (3):كَانَ لَايَشْتَغِلُ بِاُمُوْرِ النَّاسِ د خلقو پۀ معاملو کښې به يې ګوتې نۀ وهلې- [1]

د خپل کار سره کار ساتئ!

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے انداز دے، اِمام بُخاري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه به د خپل کار سره کار لرلو- د بده مرغه نن سبا ډېر خلق د دې پاک صفت نه محرومه دي ❁ د ډاکټر نۀ کېدو باوجود مريضانو ته نُسخې ښودل ❁ بغېر د غوښتلو نه مشورې ورکول ❁ که د چا کور ته تلل وي نو د کور پۀ ودانۍ کښې، د کور پۀ ساز او سامان کښې، د کور پۀ سيټنګ کښې بغېر د شرعي اِجازت نه عيب راويستل، مثلاً تاسو کور داسې جوړ کړے دے، دلته چې مو دا جوړ کړي وو نو ښه به وے، دا مېز مو دلته ايښودے دے، که هلته مو ايښودے وے نو ښه به لګېدو وغېره وغېره ❁ داسې چې درې څلور دوستان کښېني نو د حکومتونو پۀ معاملو باندې تبصرې شروع کړي، فلانکي حکمران له داسې نۀ وو کول پکار، فلانکي صاحب دا بيان ورکړو، هغه له دا بيان ورکول پکار وو، بيا پۀ دې لړ کښې د غېبتونو او بهتانونو چې کومه لړۍ شروع شي، اَلْاَمَان وَالْحَفِيظ۔۔۔!! ❁ دغه شان د خلقو عېبونه لټول ❁ د خلقو پۀ ذاتي معاملو کښې دلچسپي اخستل ❁ د نورو نه د هغوئي د ذاتي ژوند پۀ باره کښې پوښتنې کول وغېره دا هر څۀ د نورو پۀ معاملو کښې بے ځايه د ګوتو وهلو مثالونه دي-

ياد ساتئ چې کاميابي همېشه د هغه چا نصيب کېږي څوک چې د خپل کار سره کار لري،

---

[1]... ہدايۃُ السّاری، صفحہ:76۔

صرف د کولو کارونه کوي، د نۀ کولو د کارونو نه تَل ځان ساتي۔

د کولو یو اهم کار

الله پاک دې زمونږه د عمل کولو توفیق نصیب کړي۔ هم نن کوشش اوکړئ او د ځان نه ګېر چاپېره یو بار ولګوئ! یعنې خپله یوه قلعه جوړه کړئ! چې تاسو ته پته وي چې ❁ ما ته څۀ اورېدل دي او څۀ نۀ دي اورېدل ❁ څۀ لیدل دي او څۀ نۀ دي لیدل ❁ څۀ وئیل دي او څۀ نۀ دي وئیل ❁ پۀ سوشل مېډیا کوم قِسمه مواد ما ته کتل دي او کوم قِسمه نۀ دي کتل۔ د چا پۀ اسټېټس (Status) کتلو کښې څۀ باک نشته او د چا اسټېټس به زۀ نۀ ګورم۔ دا پۀ مونږ کښې د هر چا دپاره یو ټاکلے شوي اُصول پکار دي ❁ دغه شان پۀ واټس اېپ (WhatsApp) باندې چې کوم خلق ګروپونه جوړوي نو پۀ عام طور اِجازت هم نۀ غواړي، زمونږه نمبر هم پۀ ګروپ کښې اچوي، بیا خنګه خنګه ګروپونه دي، پۀ هغې کښې به کوم قِسمه مواد (Content) شېئر (Share) کولے کېږي، هیڅ پته نۀ لګي ❁ پۀ واټس اېپ کښې د آرکائیو (Archive) آپشن (Option) وي، که معلوم درته نۀ وي نو د چا نه یې زده کړئ! ستاسو پۀ واټس اېپ کښې چې څومره ګروپونه (Groups) دي د کوم چې تاسو ته ضرورت پېښېدے شي خو تاسو پۀ هغې کښې ایکټو (Active) کېدل نۀ غواړئ، هغه ګروپونه پۀ آرکائیو کښې واچوئ او هر هغه ګروپ پۀ کوم کښې چې ستاسو د مطلب معلومات نۀ شېئر کولے کېږي او چرته چې بس هڅې بے هیڅه فضولیات شېئر کېږي، هغه ډلیټ (Delete) کړئ! د دې پۀ برکت به هم اِنْ شَآءَ اللّٰه اَلْکَرِیم! ژوند د ډېره حده پورې د سکون نه ډک شي۔

د بے معنې ژوند نه ځان بچ ساتئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! زمونږه د نا قلارو یوه لویه وجه بے معني ژوند هم دے۔

Meaningless Life۔ یعنې پۀ ژوند کښې هډو څۀ لوئې مقصد موجود نۀ دے۔ دا هم د دې وخت ډېره لویه مسئله ده۔ پۀ ژوند کښې بے معنویت زیاتېږي۔ مونږ دې دُنیا ته راغلي یو، یو وخت تلل هم دي، د دې ترمینځه چې کومه موده ده پۀ دې کښې مونږ له څۀ کول دي؟ هٰغه کومه لویه کارنامه ده کومه چې به مونږ پۀ دې دُنیا کښې کوو او څو به؟ مونږ سره د دې هیڅ څۀ منصوبه (**Plan**) نۀ وي ❁ تاسو د ځوانانو نه پوښتنه اوکړئ چې تاسو پۀ دې دُنیا کښې څۀ لوئې کارنامه کول غواړئ؟ عام طور به تاسو ته داسې جواب مېلاؤېږي: ❁ زۀ لوئې کاروبار کول غواړم ❁ څوک به وائي: زۀ ښکلې بنګله جوړول غواړم ❁ څوک به وائي: زۀ مالداره کېدل غواړم ❁ څوک به وائي: بس هم یو خوب دے، چې پۀ څۀ طریقه فلانکې مُلک ته ورسېږم، چې هلته مستقل استوګنه اِختیار کړم ❁ ډېر خلق به تاسو ته داسې مېلاؤ شي چې د هغوئې سره به څۀ خاص مقصد هم نۀ وي، بس ورځ شي، د ګټې د پاره ووځو، شپه شي نو کور ته راشو او اودۀ شو۔

دا زۀ د اکثریت خبره کووم۔ زمونږ پۀ دې دور کښې اکثریت هم داسې دي۔ څۀ لوئې مقصد زمونږ مخې ته نۀ وي۔ که چرته څۀ لوئې مقصد وي هم نو د دُنیا د حده پورې دے۔ مونږ څۀ داسې پۀ اعلیٰ کار کولو د دُنیا نه تلل نۀ غواړو د کوم پۀ وجه چې زمونږ نه وروستو خلق مونږ پۀ ښه الفاظو کښې یاد وساتي۔

د دې د نقصان درته پته شته چې څۀ دے؟ چې د ژوند څۀ لاره نۀ وي نو د زندګۍ نتیجه کښې به وي ګډه وډه - داسې وګڼئ چې یو بَس د لارې مینځ کښې ولاړ دے۔ اوس هغه ته معلومه نۀ ده چې کوم طرف ته تلل دي، نو څۀ به کېږي؟ یا خو به ډرائیور بس تاوهي راتاوهي، اخر به پټرول ختم شي۔ یا به هم هلته ولاړ وي او سوچ به کوي۔هم داسې د بے مقصده او بے معني ژوند تیرولو والا کس زندګي خو به تیره کړي خو د هغۀ صلاحیتونه،وخت او وسائل ټول به ضائع شي.

د قبديانو مثال

د غېر مسلمو ملکونو يو مثال دے؛چې په يو غېر مسلمه ملک کښې يو جبل جوړ کړے شو- دا زهٔ رښتيا خبره کووم- په دغه جبل کښې ډېرې سختې سزاګانې ورکړے کېدلې- دومره سختې چې خلقو به د ژوند په ځائے د مرګ ارمان کولو او د هٰغه جبل نه د وتو هم څهٔ لاره نهٔ وه- معامله څهٔ داسې شوه چې هٰغه جبل ته په څهٔ وجه د نفسياتو يو ماهر لاړو- اوس ډاکټر خو په هر ځائے کښې ډاکټر وي، مبلغ په هر ځائے کښې مبلغ وي- هٰغه د نفسياتو ماهر په جبل کښې دننه د خلقو په نفسياتو کار شروع کړو- هغه وکتل چې ځينې خلق دي کوم چې په قبد کښې هم د سختو سزاګانو برداشت کولو باوجود په سکون کښې دي، ځينې هٰغه دي کوم چې قبد هډو زغملے نهٔ شي او د ژوند نه مايوسه شوي دي- دې د نفسيانو ماهر د هٰغه دواړه قِسمه قبديانو موازنه اوکړه- د ډېرو کلونو پورې هغه په دوئې باندې تحقيق کولو- اخر چې کله هٰغه د نفسيانو ماهر د جبل نه بهر راغلو نو هغه په خپل تحقيق باندې کتاب وليکلو- په هٰغه کتاب کښې هغه دا نتيجه راويستله چې **د کوم ګس سره څهٔ اُمېد وي، د چا چې څهٔ خاص مِشن وي** هغه په ډېرو سختو حالاتو کښې هم په سکون سره اوسېږي او خپل ژوند سمبالوي (يعنې ***Manage***) کوي خو چې د چا څهٔ اُمېد څهٔ مِشن نهٔ وي، هغه د وړو وړو پرېشانو په مخکښې هم حوصله بائلي-

معلومه شوه چې په ژوند کښې څهٔ لوئې مقصد نهٔ کېدل هم د نا قلاریٔ او بے سکونیٔ يو لوئې سبب دے-

مقصد څنګه ساتل پکار دي ---؟

اوس سوال دا دے چې د ژوند مقصد خو خپلول دي، هغه څهٔ کېدے شي---؟ يو څو روايتونه واورئ!

❁ مشهور ولي الله حضرت مالِک بن دينار رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي:

مَا يَنْبَغِي لِلْمُؤْمِنِ اَنْ يَكُونَ بَطْنُهُ اَكْثَرَهَمِّهٖ

ترجمه: د مؤمِن د پاره دا جائز نۀ دي چې د هغه مرکز او مقصد د هغه خپټه وي-[1] (يعنې هغه هر وخت هم د خپلې خپټې پۀ فِکر کښې لګيا وي-)

❁ حضرت مُعَاوِيَه اَسوَد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي:

مَنْ كَانَتِ الدُّنْيَا اَكْبَرَهَمِّهٖ طَالَ غَدًا فِي الْقِيَامَةِ غَمُّهٗ

يعنې د چا چې د ټولو نه لوئي فِکر **صرف دُنيا** وي، پۀ اخرت کښې به د هغه غم اوږد شي-[2]

اَللهُ اَكْبَر! معلومه شوه چې د خپل ژوند څۀ مقصد جوړول پکار دي خو هٰغه مقصد دُنيا نۀ ده پکار، د دې بنګلې، محلونه، مال او دولت، بينک بيلنس وغيره نۀ دے پکار- بلکې څۀ ښه مقصد خپل کړئ؛ مثلاً: ❁ زۀ به د الله پاک نېک بنده جوړېږم ❁ زۀ به د قرآنِ کريم حافِظ او عالِم جوړېږم ❁ زۀ به د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو عالِم، عامِل او مبلغ جوړېږم ❁ او يو ډېر ښکلے مقصد عرض کوم، کاش چې مونږ ټول خپل دا مقصد جوړ کړو:

ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي- اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!

مَيں مُبَلِّغ بنوں سُنّتوں کا، خوب چرچا کروں سُنّتوں کا

يا خدا! درس دوں سُنّتوں کا، ہو کرم بہرِ خاکِ مدينہ[3]

موازنه پرېږدئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د نا قلاری نه د بچ کېدو يوه ډېره اسانه نُسخه دا ده چې د نورو سره خپله موازنه (**Comparison**) کول پرېږدئ! ❁ د فلانکي سره محل دے،

---

[1]...موسوعہ ابن ابی دنیا، کتاب الجوع، جلد:4، صفحہ:96، حدیث:105۔

[2]...موسوعہ ابن ابی دنیا، کتاب ذم الدنیا، جلد:5، صفحہ:138، حدیث:294۔

[3]...وسائل بخشش، صفحہ:189۔

زۀ پۀ خراب کور کښې اوسېږم ❁ فلانکے پۀ موټرو کښې ګرځي، زما سره سائیکل هم نشته ❁ د فلانکي سره ډېر ګران موبائل دے، زما سره ارزان هم نشته- داسې موازنه مۀ کوئ- نن سبا دا وبا ډېره زیاته شوې ده، خلق سوشل مېډیا ګوري او څۀ چې ښودلے کېږي، د هغې سره خپله موازنه شروع کوي-

پۀ دې خبره باندې ځان پوهه کړئ چې څۀ پۀ کېمره ښودلے کېږي، پۀ حقیقت کښې به هم هٰغسي وي، دا ضروري نۀ دي- ډېر خلق دي کوم چې صرف د وېډیو جوړولو د پاره ښه سیټنګ کوي ❁ بس پۀ کېمره کښې چې کوم ځائے راځي، هلته لږ ښه سیټنګ اوکړي ❁ دا چې کوم محلونه بنګلې پۀ وېډیوګانو کښې پۀ نظر راځي، دا به د وېډیو جوړونکو خپلې وي، دا ضروري نۀ دي، ځینې د وېډیو جوړولو د پاره د یو څو ګېنټو پۀ کرایه اخلي ❁ بیا چا ته پته نشته چې د وېډیوز د پاره فِلټرې لګولے کېږي ❁ د اے آئي پۀ ذریعه بېک ګراؤنډ بدلولے کېږي-

ځکه د هغوئ سره هډو موازنه جوړېږي نۀ- هسې مونږ له د چا سره هم موازنه کول نۀ دي پکار- الله پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ اِلٰى مَا مَتَّعْنَا بِهٖۤ اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ زَهْرَةَ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا ۙ (پارہ:16، سورۂ طٰہٰ:131)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او اے اورېدونکیه! مونږه د مخلوق مختلفو ډلو ته چې د دُنیا کومه تر او تازګي د فائدې اوچتولو د پاره ورکړې ده د هغې طرف ته خپلې سترګې مۀ غزوه-

یعنې نورو خلقو ته چې کوم مال او دولت عطا کړے شوے دے، هٰغه طرف ته نظر مۀ کوه! آؤ! الله پاک چې تاسو ته څۀ عطا کړي دي، هغې ته ګوره او پۀ هغې باندې د الله پاک شُکر ادا کوه!

ډېر ښکلے حديثِ پاک دے، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:

اِذَا نَظَرَ اَحَدُكُمْ اِلٰى مَنْ فُضِّلَ عَلَيْهِ فِي الْمَالِ وَالْخَلْقِ، فَلْيَنْظُرْ اِلٰى مَنْ هُوَ اَسْفَلَ مِنْهُ

ترجمه: كله چې په تاسو كښې يو گس په مال او دولت او شكل او صورت كښې د ځان نه بهتر گس وويني، نو هغه له پكار دي چې داسې گس ته وگوري كوم چې په دغه څيزونو كښې د هغه نه كم تر وي- (1)

سُبْحٰنَ اللّٰه! څومره ښكلې نُسخه ده--!! كاش چې مونږ دا نُسخه خپلوونكي جوړ شو- الله پاک دې مونږ له د عمل كولو توفيق راكړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ـ

د سحر نـمونځ نهٔ كول

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د مسلمانانو په معاشره كښې د زياتېدونكي نا قلارۍ يوه ډېره اهمه وجه **د سحر نـمونځ** قضا كول هم دي- هسې خو ټول نـمونځونه په خپل وخت باندې ادا كول لازمي دي خو افسوس چې نن سبا په پينځه واړه نـمونځونو كښې سستي كېږي- البته د سحر د نـمونځ په خاص توگه فضيلت دے- كوم گس چې د سحر نـمونځ قضا كوي، د هغه ټوله ورځ په فِكرونو او نا قلارو كښې تېرېدے شي- په حديثِ پاک كښې دي: كله چې په تاسو كښې څوک اودۀ كېږي نو شېطان د هغه د څټ په شاته حصه كښې درې غوټې ورکوي، په هره غوټه باندې دا خبره په زړۀ كښې كښينوي چې اوس لا شپه هم ډېره پاتې ده اودۀ شه ❁ بس كه چرې هغه پاڅي او د اللّٰه ذِكر اوكړي نو يوه غوټه پرانستے شي ❁ كه چرې اودس اوكړي نو دوېمه غوټه پرانستے شي ❁ او چې نـمونځ اوكړي نو دريمه غوټه هم پرانستے شي، بيا هغه خوشحاله خوشحاله او تر او تازه سحر

---

[1]...بخاری، کتاب الرقاق، باب لینظر الی من هو اسفل منه...الخ، صفحه:1594، حدیث:6490ـ

کړي، ګڼې هغه د غمژن زړۀ او سستۍ سره سحر کوي۔[1]

د دې حدیث پۀ شرح کښې ملا علي قاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه لیکلي دي: څوک چې د غفلت پۀ خوب اودۀ وي تر دې پورې چې د سحر د نـمونځ وخت تېر شي، نو هغه د غمژن زړۀ او د دېرو زیاتو فِکرونو سره او د خپل کار د پوره کولو پۀ باره کښې حېرانه او پرېشانه سحر کوي او د کوم کار چې هم د کولو اِراده کوي پۀ هغې کښې ناکامه کېږي ځکه چې هغه د الله پاک د نزدیکت نه لرې شوے وي او د شېطان د دوکې پۀ جال کښې راګېر شوے وي۔[2]

افسوس چې دا وبا خو اوس ډېره عام شوې ده، ډېر ښه مذهبي ښکاریدونکي ، د نـمونځونو شوق لرونکي، نور نـمونځونه پوره ادا کوونکي هم د سحر پۀ نـمونځ کښې ناراستي کوي۔ کاش چې مونږ پۀ خاص توګه د سحر د نـمونځ او د دې پۀ برکت باقي نور ټول نـمونځونه هم پۀ وخت باندې، پۀ جومات کښې د جَمعې سره ادا کوونکي جوړ شو۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

یاالٰہی! فجر میں اٹھنے کا ہم کو شوق دے | سب نمازیں ہم جماعت سے پڑھیں وہ ذوق دے

د نا قلاریۀ پۀ وخت لوستلے کېدونکې دُعا

پۀ اخره کښې د پرېشانیۀ او نا قلاریۀ پۀ وخت لوستلے کېدونکې یوه دُعا واورئ! د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خادِم حضرت اَنس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې به کله پۀ څۀ وجه پرېشانه یا نا قلاره وو نو لوستل به یې:

یَاحَیُّ یَاقَیُّوْمُ بِرَحْمَتِكَ اَسْتَغِیْثُ

ترجمه: اے همېشه ژوندي پاتې کېدونکیه! اے د ټولو قائِم ساتونکیه! زۀ ستا د رحمت

---

[1]...بخاری، کتاب التَہَجّد ، باب عقد الشیطان...الخ، صفحه:331، حدیث:1142۔

[2]...مرقاۃ المفاتیح، کتاب الصلاۃ، باب التحریض علی ...الخ، جلد:3، صفحه:266-267،زیرِ حدیث:1219ملخصاً۔

پۀ وسیله ستا نه مدد غواړم۔[1]

دَمِ اضطراب مجھ کو جو خیال یار آئے | میرے دِل میں چین آئے تو اسے قرار آئے

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق را عطا کړي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

پۀ 12 دِیني کارونو کښې یو کار: مدرسة المدینه بالِغان

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د ګناهونو نه د نفرت د جذبې موندلو، د نېک نـمونځ ګزاره جوړېدو د سعادت حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول د دیني تنظیم دعوتِ اسلامي د دیني ماحول سره خپل تړون مضبوط کړئ! پۀ 12 دیني کارونو کښې هم ښه پۀ شوق برخه اخلئ! اِنْ شَآءَاللّٰہ الْکَرِیم! ژوند به مو جوړ شي، که الله پاک وغوښتل نو د دُنیا نه به مو د بے رغبتیِ دولت هم نصیب شي او اخلاق او کردار به مو هم ښه شي۔ پۀ 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: **مدرسة المدینه بالِغان** هم دے پۀ کوم کښې چې د صحیح تجوید او قراءَت سره قرآنِ کریم لوستل ښودلے کېږي۔

پۀ حدیثِ پاک کښې دي: پۀ تاسو کښې بهتر هغه دے څوک چې قرآن زده کړي او [نورو ته یـې] وښائي۔[2] ❁ قرآنِ مجید د الله پاک کتاب دے ❁ د بندګانو پۀ نوم د رَبِّ کریم پېغام دے ❁ خو افسوس چې نن مسلمانان د قرآنِ کریم نه ورځ پۀ ورځ لرې کېږي ❁ ډېر خلق پۀ کتلو هم صحیح قرآنِ مجید نۀ شي لوستلے ❁ څوک یـې چې لولي هغوئ هم پۀ تجوید او مخارجو کښې داسې غلطیاني کوي، چې د هغې پۀ وجه یـې نـمونځ هم نۀ کیږي۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! د عاشقانِ رسول دیني تنظیم دعوتِ اسلامي د قرآن پۀ فیضان عام کولو کښې

---

[1]...ترمذی، کتاب الدعوات، صفحہ:807، حدیث:3524۔

[2]... بخاری، کتاب فضائل القرآن، باب خیرکم من ...الخ، صفحہ:1299، حدیث:5027۔

مصروف دے ❁ پۂ کومو کښې چې پۂ صحیح تجوید او مخارج سره قرآنِ کریم لوستل ښودلے شي ❁ فرض عُلُوم هم ښودلے شي ❁ سُنّت او اَداب هم ښودلے شي او ❁ د ترجمې او تفسیر اورېدو موقع هم مېلاؤېږي- تاسو هم پۂ دې کښې شرکت کوئ! اِنْ شَآءَاللّٰه اَلْکَرِیم! دېر برکتونه به درنصیب شي- راځئ چې د ترغیب د پاره یو مدني سپرلے واورو-

د فېشن پرست پۂ ژوند کښې سپرلے راغلو

د حېدر آباد (سندھ، پاکستان) د اوسېدونکي یو اِسلامي ورور بیان دے چې زۂ یو فېشن اېبل (Fashionable) ځلمے ووم، د دُنیا پۂ موج مستۍ کښې ورک، د خپل اخرت د انجام نه بے خبره مې پۂ غفلت کښې د ژوند شپې او ورځې تېرولې، زما د ګناهونو نه پۂ ډک ژوند کښې سپرلے څۂ داسې راغلو چې زما پۂ مدرسة المدینه بالِغان کښې د داخِلې سعادت نصیب شو، بیا زما د ژوند د نېک بختۍ سفر شروع شو، د مدرسة المدینه بالِغان برکتونو زما زړۂ د الله پاک د وېرې او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۂ عشق روښانه کړو، پۂ دې کښې زما د قرآنِ پاک د تعلیم سره سره پۂ سُنَّتو باندې د عمل کولو جذبه هم نصیب شوه او پۂ هفته واره اِجتماع کښې د شرکت کولو سعادت هم نصیب شو- اَلْحَمْدُلِلّٰه! پۂ مدرسة المدینه بالِغان کښې د لوستلو پۂ برکت زما پۂ ژوند کښې سپرلے راغلو، د فېشن پرستۍ، موج مستۍ نه مې نجات هم نصیب شو-

ترا شکر مولیٰ دیا دینی ماحول
دعا ہے یہ تجھ سے دل ایسا لگا دے
نہ چھوٹے کبھی بھی خدا دینی ماحول
نہ چھوٹے کبھی بھی خدا دینی ماحول[1]

قرآن ټیچر موبائل اېپلي کېشن

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن سبا د ټېکنالوجۍ دور دے- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د

[1]... وسائل بخشش، صفحہ: 647-648۔

قرآنِ کریم د فېضان عام کولو د پاره دعوتِ اِسلامي I.T ډیپارټمنټ یو موبائل ایپلي کېشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: قرآن ټیچر(Quran Teacher)۔ ❁ پۀ دې ایپلي کېشن طالبِ علمان د درسِ نظامي، فېضانِ نماز کورس او زکوٰۃ کورس پۀ شان د بے شمېره آن لائن کورسونو د پاره رجسټرېشن کولے شي ❁ پۀ سټوډنټ پورټل (Student Portal) کښې د خپل آن لائن کلاس د حلو ځلو پۀ باره کښې ځان خبر ساتلے شي ❁ د دعوتِ اِسلامي پۀ دې پلیټ فارم باندې تقریباً 55 اِسلامي کورسونه کولے شي ❁ دا ایپلي کېشن د آن لائن کېدونکو کورسونو پۀ باره کښې معلومات (Information) ورکوي تاسو هم د خپلې خوښې مطابق د هر یو کورس انتخاب کولے شئ او بغېر د څۀ مشکل نه د آن لائن قرآن زده کولو د پاره داخله اخستے شئ۔ دا ایپلي کېشن ډاؤن لوډ کړئ، پخپله ترېنه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

یو څو ضروري اِعلانات

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ❁ د هر خالي پۀ ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ پۀ مَدَني چینل لائیو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکي خالي پۀ ورځ به هم پۀ مَدَني چینل د ماسخوتن د نـمونځ نه پس تقریباً 8:15 بجې اِنْ شَآءَاللّٰہ الْکَرِیم! هفته واره مَدَني مذاکره کېږي، پۀ کومه کښې چې به شېخ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د سوالونو جوابونه هم ورکوي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت اوکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ❁ شېخ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت هره هفته د یوې دیني رسالې لوستلو ترغیب ورکوي، پۀ راتلونکي هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله د الله پاک د ملاقات شوق اعلان

کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او ثوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس اپ وغیره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر (Share) کړي! ❁ مکتبة المدینه د حَرَمَیْنِ طَیِّبَیْن (یعني مکے مدني)پۀ ادابو(یعني طریقې) ښودلو دپاره ډیر جامع او مفید کتاب پۀ نوم :**مکه و مدینه کا ادب کیجئے**، شائع کړے دے ،د مکې مکرمې او مدینې منورې د ادابو زده کولو،با ادبه حاضرۍ شرف موندلو دپاره د دې کتاب لازمي مطالعه وکړئ ، دا کتاب د مکتبة المدینه د یوې څانګې نه پۀ 220 روپۍ پۀ بیعه حاصل کړئ-پخپله یې هم مطالعه کړئ او نورو له هم ترغیب ورکړئ .

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

د قافلې میاشت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! **د قافلې د میاشتې** ورځې جاري دي- د نېکۍ د دعوت عام کولو د پاره د ټول ملک نه عاشقانِ رسول ❁ د 12 میاشتو ❁ یوې میاشت ❁ 12 ورځو ❁ او 3 ورځو پۀ قافلو کښې سفر کوي-

یاد ساتئ چې د نېکۍ دعوت ورکول او پۀ دې لاره کښې تکلیفونه برداشت کول د انبیائے کرامو علَیهِمُ السَّلام سُنَّت دي: ❁ انبیائے کرامو علَیهِمُ السَّلام ❁ صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم ❁ نېکانو خلقو به د نېکۍ دعوت ورکولو د پاره د کورونو نه راوتل ❁ لرې لرې علاقو ته به تلل ❁ هجرت به یې کولو او ❁ تکلیفونه به یې تېرول او د دِین پېغام به یې عام کولو ❁ د مخکښینو خلقو پۀ قربانو مونږ ته دا دِین رارسېدلے دے-

تاسو هم د قافلې پۀ میاشت کښې دننه د سفر کولو نیت اوکړئ! که کېدے شي نو هم اوس خپل نیت درج کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰه الْکَرِیم! ډېر بَرَکتونه به مو نصیب شي ❁ پۀ قافله کښې فرض عِلمِ دِین ښودلے شي ❁ سُنَّت ښودلے شي ❁ د تهجدو کولو سعادت مېلاؤېږي ❁ د نېکۍ

د دعوت عام کولو موقع مېلاؤېږي ❁ د قافلې پۀ بَرَکت سره د دعاګانو د پوره کېدو ❁ د مشکلاتو د لرې کېدو ❁ د بیمارانو د شفا نصیب کېدو هم پۀ سوونو واقعې دي ❁ داسې هم شوي دي چې پۀ مَدَني قافله کښې د سفر کوونکو عاشقانِ رسول د ډاډګیرنې د پاره خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کرم فرمائیلے دے، پۀ خوب کښې یې تشریف راوړے دے او پۀ قافله کښې برخه اخستونکو له یې دیدن ورکړے دے- الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راکړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بیان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّۃِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به پۀ جَنَّت کښې زما سره وي- [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

ږیره پرېښودل سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دي

د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: برېتونه کټ کړئ او ږیرې غټې کړئ د مجوسیانو مخالفت اوکړئ! [2]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! ږیره پرېښودل سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بلکې سُنَّتِ انبیا عَلَیْہِمُ السَّلَام دي ❁ زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ږیره مبارکه به همېشه د یو موتي پۀ مقدار وه ❁ که د یو موتي نه به غټه شوه نو وړه کوله به یې- ❁ د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ږیره مبارکه به پۀ پلن والي کښې داسې وه چې سینه مبارکه

---

[1]... تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔

[2]... مسلم، کتابُ الطہارت، باب:خِصَالُ الْفِطْرَۃ، صفحہ:153، حدیث:257۔

به يې ډکوله- [1] ❁ اخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ږيره خَرڅل او برېت غټول بيخي نۀ خوښول ❁ پۀ بهارِ شريت کښې دي چې ږيره خرڅل يا د يو موټي نه کمول حرام دي- [2]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شېخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او وه يې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

سنّتیں سیکھنے تین دِن کے لیے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق را عطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... انوارِ جمالِ مصطفےٰ، صفحہ:157 خلاصۃً۔

[2]... بہارِ شریعت، حصہ:16، جلد:2، صفحہ:586۔